# ( لومړی برخه: د ځنګله پيل ) Unit A: Introduction to Forestry

## Lesson 1☹( لومړی لوست)
Defining Forests د ځنګلونو تعريف يا پيژندنه)



# (اصطلاح ګاني)Terms

- ( محلي يا ځآيي ځنګل )Native forest
- (د ډيرو کلونو ځنګل)Old-growth forest
- (د خميري لرګی)Pulpwood
- هغه ځنګل د بيا ځل لپاره يي ) Regrowth forest
  رشد او نمو کړي وي)
- د ځنګله راتوکيدل او ساتنه) ( Silviculture
- (د ونې فورم )Tree farm
- **Commercial** forestry
- ( تجارتي يا سوداګريزه ځنګلداري)
- (ځنګل) Forest
- (ځنګلداري) Forestry
- (د لرګي کنده يا تنه) Log

# ځنګل څه شی دی؟

- A ځنګل د حيواناتو، نباتاتو او د هغوي پوري د ترلو شيانو څخه جوړه يوه مغلقه ټولنه ده.
- دا داسې يوه ټولنه ده چي د بدلون وړ ده.

# ځنګل څه شی دی؟

- نباتات  د ځمکې په سیمه کي تسلط یا واک لري
  - د وحشي حیواناتو ژوند امکان لري چي د ځنګله له ژوندانه سره تړلي یا نښتي وي.
- ځنګلونه ممکن دي چي په نامحدوده توګه د ځمکي په یوه سیمه کي ژوند ولري مګر دا چي د انسانانو پواسطه په بیرحمه توګه ورته ضرر ورسیږي او یا هم دا چي د ناګوار شرایطو سره مخامخ شي لکه طوفانونه کوم چي د  ځنګلونو لپاره تخریبي عوامل ګڼل کیږي.

# ځنګل څه شی دی؟

- ځنګلونه د طبیعت په ثبات کي برخه لري او په نتیجه کي د ژوندانه ډیر شکلونه، په شمول د انسانانو ګټور او فایده من تمامیږي
- د ځنګلونو مطالعه یا څیړنه او هغه تولني چي له هغې سره تړلي دي د ځنګلداری په نامه سره یادیږي.



ځنګل – د حيواناتو يا ځارويو، ونو او نباتاتو د يوې ټولنې ځخه عبارت دی
د ځنګلاتو او هغو ټولنو مطالعه او څيړنه چي له ځنګلونو سره تړلي وي



# د ځنګله اهيمت يا ارزښت څه دی؟

- ځنګلونه د چاپيريال يو له مهمو برخو څخه دي.
- ځنګلونه تقريباً د ځمكي د سطحې دريمه حصه يا برخه په بر كي نيولي ده.
- افغانستان تقريبا 1351000هكتاره ځنګلونه لري.

# د ځنګله اهیمت یا ارزښت څه دی؟

.د ځنګله د تولید او ساتنې هنر د ځنګله د راتوکیدو (silviculture) په نامه سره یادیږي.

- د دې لپاره چې د ځنګله راتوکیدل په موثره توګه صورت نیولی وي، باید چې د ځنګله د محیط او جینتکي منځنیو اړیکو باندې پوه شوي وسو.

# د ځنګلونو انواعي دي بيان کړل شي

- په يوه وخت کي ځنګلونو د ځمکې د وچي ډيره برخه په برکي نيولی وه.
- دي پوښونکي يا پټونکي منبع د نړي په ډيرو ملکونو کي خپراوی پيدا کړی دی.



# د ځنګلونو انواعي دي بیان کړل شي

- څو نوعه ځنګلونه شتون لري.
- محلي یا ځآیي ځنګل (native forest) له هغه ځنګل څخه عبارت دی چي مختلفي نوعي (species) په هغي کي په طبیعي توګه را ټوکیدلي ویاو په طبیعي توګه په سیمه کي شتون لري
- محلي یا ځایي ځنګلونه د مختلفو نوعو درلودونکي دي او د وحشي حیواناتو ژوند په هغې کي دي.

# د ځنګلونو انواعي دي بیان کړل شي

- د افغانستان اکثره یا ډیری ځنګلونه یو یا دوه پلا پري کړل شوي دي
- د ځنګله د ونو د بیا ځل لپاره راټوکیدل په دي ساحو کي د نوي نمو کونکی ځنګلونو په نامه سره یادیږي. د نوي نمو لپاره دا نوعه ځنلګونه تقریباً د یوه قري ځلورمه برخه(۲۵ کالو) لپاره ضرورت یا اړتیا لري.

# د ځنګلونو انواعي دي بيان کړل شي

- هغه ځنګل چي پري کړل شوي نه وي د ځوړ ځنګله په نامه سره ياديږي او يا هم د لاس نه خوړلی ځنګل په نامه سره ياديږي.



# د ځنګلونو انواعي دي بيان کړل شي

- د ونې فارم له هغې ساحې نه عبارت دی چې په هغې کې ونې د انتخاب يا ټاکلو او نوعو د اصلاح يا ښه کولو په منظور کرل شوي وي.
- په دي فارم کې د هغو نوعو لپاره چې نا غوښتل شوي دي او د نظر وړ نه وي د نمو او رشد اجازه ورته نه ورکول کيږي.
- د نظر لاندې کارونه صورت نيسي ترڅو چې دا نوعه ونې په ښه ډول سره تر ساتنې لاندې ونيول شي او په چټکه توګه نمو او رشد وکړي.

# د ځنګلونو انواعي دي بيان کړل شي

- د ځنګله د محصولاتو د احستلو لپاره په منظمه او اساسي توګه يو مهال ويش ترتيب کيږي ترڅو چي لرګي په زياتي پيماني سره توليد کړل شي.
- تجارتي يا سوداګيريزه ځنګلداري په هغه ځنګله باندې اطلاق کيږي چي په هغي کي د لرګی د مارکيټ د بهبود لپاره په هغې کي د نظر وړ کارونه سرته ورسيږي.

# له ځنګله څخه د استفادې یا ګټې اخستنې ځآیونه تشریح او روښانه کړئ؟

- له ځنګلونو څخه په زیاتي پیمانې سره ګټې اخستنې صورت نیسي. هغه تولیدات چې د ځنګله له ونو څخه په لاس راځي په مختلفو لارو سره په کار وړل کیږي.
- د ځنګلونو له تولیداتو څخه په پراخه پیمانې سره د هغې د ونو په پرتله خپله له ځنګله څخه ډېره استفاده صورت نیسي.

# له ځنګله څخه د استفادې یا ګټې اخستنې ځآیونه تشریح او روښانه کړئ؟

- له ځنګلونو څخه په تجارتي توګه استفاده کولو څخه ډیره زیاته اقتصادي ګټه په لاس راځي د ځنګلونو خام مواد د ګټورو موادو د جوړولو لپاره په کار وړل کیږي.
- د لرګی کنده یا تنه د یوي وني د ساقي یا تنې یوه مهره ده چې کیدلی شي هغه په مناسبو تختو باندې اره کړل شي.
- د لرګی خمیره عبارت له هغه لرګی څخه ده چې د کاغذ، او دي ورته تولیداتو لپاره په کار وړل کیږي.

# له ځنګله څخه د استفادې یا ګټي اخستنې ځآیونه تشریح او روښانه کړئ؟

- ځنګلونه په زیات شمیر سره نور تولیدات هم منځته راوړي، لکه کټاري، د لرګی شیره، مغزباب، د بلوط داني، جنغوزي او په ځانګړي توګه لرګین مواد برابروي.



# له ځنګله څخه د استفادې يا ګټي اخستني ځآيونه تشريح او روښانه کړئ؟

- ځنګلونه د محيط يا چاپيريال لپاره يو شمير ګټي او مفادات برابروي.
- ځنګلونه د محل په اقليم باندې ډير تاثير لري.
- وني د دې وړتيا لري ترڅو چي واړه محيطونه يا چاپيريالونه په ګرم موسم کي يخ کړي او د باد وضعې ته د کال په جريان کي کموالي ورکړي.

# له ځنګله څخه د استفادې یا ګټې اخستنې ځآیونه تشریح او روښانه کړئ؟

- ځنګلونه رطوبت یا لمدوالی ساتي.
- ونې د اوبو کنګالونې ته کموالي ورکوي او د واورې په ساتنه کې له هغې سره د ذوب په وخت کې مرسته کوي،پر دې برسیره، ځنګلونه د اوبو د زیرمو ساتنه د ځمکې له لاندنی برخه کې کوي. او د سیلابونو خطرونو یا ننګونو ته کموالی ورکوي.

# له ځنګله څخه د استفادې یا ګټې اخستنې ځآیونه تشریح او روښانه کړئ؟

- ځنګلونه د وحشي حیواناتو یا څآرویو د اوسیدو لپاره یو یوه مهم د اوسیدو ځای برابروي.
- د ځنګله ډیري ونې مختلفې میوې لکه مغزباب، د بلوط داني او نوري تولیدوي چې د وحشي حیواناتو تغذیه له هغې نه صورت نیسي او خپل ژوند ته دوام ورکوي.
- د ځنګله له حیواناتو څخه یوه برخه له پانو، د ونو له تشو ځآیونو، او نورو ځایونو څخه د ځالو او استراحت د بستر په توګه استفاده کوي.

# له ځنګله څخه د استفادې يا ګټې اخستنې ځآيونه تشريح او روښانه کړئ؟

- ځنګلونه کيدلی شي چي د ککړتيا د له منځه وړنې لپاره په کار يوړل شي.
- ونې د ککړتيا يوه برخه له هوا څخه لري کوي.
- ونې د ککړتيا د ذراتو يوې برخې ته په خپلو پاڼو باندې رسوب ورکوي چي په دې توګه د ککړتيا خطر يا ننګونې ته کموالی ورکوي.
- ونې د اوازونو د کموالی لپاره په کار وړل کيږي.
- ونې اکثره د سرکونو او جادو په غاړو کې کرل کيږي ترڅو د موټرونو يا عراده جاتو د اوازونو په کموالی کې کوم چي له محل څخه تيريږي مرسته او کومک وکړي.

# له ځنګله څخه د استفادې یا ګټې اخستنې ځآیونه تشریح او روښانه کړئ؟

- ځنګلونه د تفریح او ساعت تیرۍ لپاره زمینه برابروي.
- خلک په ځنګله کي له پیاده تلو او ګرځیدو څخه خوند اخلي او د ونو نمو او د وحشي حیواناتو ژوند تر کتنې لاندې نیسي.

**Each year a tree captures an average of 26 pounds of carbon dioxide from the Earth's atmosphere.**



# بيا حُل کتنه/خلاصه يا لنډيز

- ځنګل څه شی دی؟
- د ځنګلونو اهميت او ارزښت توضيح او روښانه کړئ.
- د ځنګلونو نوعي يا ډولونه مشخص کړي.
- له ځنګلونو څخه د استفادې کولو موارد تشريح او روښانه کړئ.